# هغه ورځ چې ما کور د ښار لپاره پرېښود!

Lesley Koyi, Ursula Nafula

Brian Wambi

Darakhte Danesh

3

پښتو ps

زموږ په کلي يو کوچنی تم ځای و، چې ګڼو خلکو او بار موټرو سره به تل دا ځای مشغول وو. د ملي بس کلينډر هم د هغو ځايونو نومونه په لوړ غږ اخيستل چيرته چې به يادې موټرې تللې.

“ښار! ښار! لويديځ ته ځو!” ما د کلينډرغږ واورېده. دا هغه ملی بس و چې ما غوښته.

د ښار ملی بس تقریبا ډک وه، مګر نورو خلکو تر اوسه هڅه کوله چې ملی بس ته جګ شي. ځینو خلکو خپله د سفر توکي د ملي بس لاندې ځای پر ځای کړي وو. او ځینو نورو خلکو د قفس دیاسه موټر منځ کې اېښې وو.

. نویو مسافرو ټکټونه اخیستي و او د کښېناستلو لپاره یې ځایونه
لټول، د میرمنو سره ماشومان هم و او د اوږده سفر لپاره یې
ځانونه چمتو کړي وو.

ما د یوې کړکۍ ترڅنګ خپل ځان ځای پر ځای کړ. هغه کس چې زما خواته ناست و، شین رنګه پلاستیکی کڅوړه یې کلکه نیولې وه. هغه زړې ښځې په پښو کړې وې، زوړ جاکټ یې و او په غوصه یې کتل.

. ما د ملي بس له کړکۍ بهر کتل او په دې فکر کې وم، چې هغه کلی پرېږدم، چیرته چې ما خاپوړې کړې دي او لوی ښار ته روان یم.

موټر ډک شو او لاس پلورونکو لا هم هڅه کوله چې پر مسافرينو ځينې توکي وپلوري، او له دې سره به يې په لوړ غږ چغې وهلې.
ماته دا غږونه ډېر جالب و.

ځيننو مسافرو د څښاک توکي واخيستل، ځينو بيا نور شيان واخيستل، او زما په څېر چې چا به پيسې نه درلودې غلی ناست وو او يوازې ننداري يې کولې.

دا کاروونه د ملی بس د حرکت د ځانګړي غږ سره پای ته ورسېدل، دا غږ په دی معنی و چې مونږ نور حرکت کوو، او دا ځای خوشې کوو. کلینډر لاس پلورونکو ته زاری کولې چې کښته شي.

لاس پلورونکو یو بل ټېله کول، ترڅو د ملي بس څخه کښته شي. بعضو مسافرو ته پاتې شوې روپۍ ورکولې. نورو په وروستۍ شېبه کې هڅه کوله چې نور توکي وپلوري.

څنګه چې ملی بس تم ځای پرېښود، ما له کړکۍ څخه بهر ولیدل.
ما ځان سره فکر وکړ، چې کله به خپل کلي ته را ستون شم.

کله چې مو په سفر کې څه وخت تېر شو، ملی بس دننه ډېر تود شو. ما خپلې سترګې پټې کړې او د خوب په تمه وم.

مګر زما فکر د کور په لور ولاړه. ایا زما مور به خوندي وي؟ ایا زما سوی به پیسې ګټې؟ ایا زما ورور به په یاد ولري چې ونو ته اوبه ورکړي؟

په لاره کې د هغې سیمې نوم مې په ذهن راوستلو چې زما کاکا په هغه لوی ښار کې ژوند کاوه. ما تر هغه وخته د هغې سیمې نوم له ځان سره تکرارولو چې خوب راغئ.

د نهه ساعتونو سفر کولو وروسته ، له خوبه راپاڅېدم او خپله کوچنۍ بکسه مې راواخيسته. له ملي بس څخه ښکته شوم. نويو مسافرو باندې مې غږ وکړ چې زما کلي ته لاړ شئ.

زما لپاره تر ټولو مهمه دا وه، چې د خپل کاکا کور پيدا کړم او ملي
بس هم په ډکېدو و چې د ختيځ لور ته حرکت وکړي.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## هغه ورځ چې ما کور د ښار لپاره پرېښود!

Lesley Koyi, Ursula Nafula
Brian Wambi
Darakhte Danesh

CC BY